مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اخترمحمد یوسفی

۲۰۱۹/۰۹/۰۴

# گزاره

اغزو سره که کړیده، کلونو گـزاره
مونږ هم کړی همداسی، په کلونو گزاره

کشتی چی په توفان، د سمندرکی ده روانه
همداسـی ده غمو سره، د زړونو گزاره

تاریخ په دی شاهد دی په پیړیو په پیړیو
ظلمونو سره کړیـده ، ولسونو گزاره

نه چا را بیرته کړي، نه یی لوستي دي یوځل
ده کړی قفسـچو کی، کتابـونو گزاره

په نن او په سبا کی، د بدلون په تمه تمه
د اور لمبو کی ده، د اُمیـدونو گـزاره

ترخـو په کلیوالو، ورکوی ځانته دوکي
را پاڅئ نوره نشـی، په خوبـونو گزاره

می/۲۵/ ۲۰۱۴
تورنتو ـ کانادا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ